شیر آغا حرکت ۲۰۱۱/۱۲/۰۹

# دفلسفي قانونمندئ ژورتیا او پراختیا
## (عمودیت او افقیت)

۱

فلسفه دالاهي خلف علم په حیث، که په ماهیت کې په ټول جهان او ټولو خلقتونو محیط علم نه ګڼل کیږي، د پرنسیپ او تیوریک اصولو له مخې یي په ټول جهان، خلقتونو او پدیدو محیط علم ګڼلې شو. دا ځکه چې:
۱ ـ ددې جهان ټولې پدیدي، چې د عالم آمراو عالم خلقت، الاهي احکامو له مخې پیدا شویدي، د انسان لپاره هم مسخر او مقدر ګڼل کیږي او هم یي په معرفت مکلف او مؤظف ګرځیدلې دي.
ـ عالم آمر په دې مفهوم او معنا، چې له یوې خوا زماني او مکاني قیدیت لري او پوهه یي ماهیتاً مشکله ده او له بلې خوا په هغې باندې پوهه او معرفت د انسان داستفادې او ضرورت وړ هم نه ګڼل کیږي، لکه د ټول جهان د پیدایښت او پایښت نیتې، چې یواځې د الاهي عالم آمر یعنې د (کن فیکون) د حکم په واسطه افاده شوې دې، خو کیدلې شي چې په مؤجل ډول دشرایطو په مساعدت سره دعالم آمر داحکامو معرفت هم د انسان لپاره ممکن وګرځي.
ـ د عالم خلقت ټولې پدیدي د انسان لپاره مسخر او مقدر ګڼل کیږي او د امکاناتو او مساعدت په صورت کې یي په معرفت هم لاس برې لري.
۲ ـ لوی جهان او ټول خلقتونه د واحد قانونمند نظام په بڼه د الاهي لوی علم دقانونمندیو له مخې پیدا، پایي او بدلون مومي او دغه قانونمندئ، په کل کې په الاهي کلام کې، دانسان په ژبه په پوره فصاحت او بلاغت سره افاده شویدي او دعلم او تخنیک په پرمختګ سره د دغه قانونمندیو دپوهې او افادې په لار کې کوم خنډ او ممانعت هم نه سترګو کیږي.
په نتیجه کې ویلې شو چې فلسفي علم، دټاکلو امکاناتو په ترلاسه کولو سره، ددې جهان د ټولو قانونمندیو په پوهه او افاده قادر او جوګه علم ګڼل کیږي. کوم څه چې د فلسفي علم په ژورتیا او پراختیا، انتګرالي او دیفرنسیالي(کلیت او جزئیت) قانونمند دیالکتیک او دالاهي علم د خلا فت په موقف پورې اړه لرلو کې شک کول او شک لرل دي، یواځې بشري کمي او کیفي نیمګړ تیاوې ګڼل کیدلې شي. دا لوی جهان او ټول خلقتونه تر هغې کچې یو تر بله سره تړلي دي، لکه چې مولانا یي د« مثنوی معنوی » په یوه فرد کې په پوره ظرافت سره هراړخیزه افاده کړې ده:
« اگر برگیری یک ذره ازجای *** فرو ریزد همه عالم سرا پای »
دا به مشکله وي وویل شي، چې د مولانا هدف به له دغه افادې څخه د لوی جهان د عمودیت او افقیت انتګرالي او دیفرنسیالي قانونمند دیالکتیکي کلي او جزئي تړلتیا وه او که په کوم بل منظور به یي دغه مطلب افاده کړې اوسي، ځکه دغه ډول ډیر ژور فلسفي مفاهیم دهر اړخیزو څیړنو او ارزونو مستلزم او مستدلو ثبوتي فورمولبندیو او قانونمندیو راوړل په کې لازمي شرط ګڼل کیږي. که رښتیا ووایم، ما دغه مطلب هغه وخت افاده کړې وو، کله چې مې په دې جهان کې د خلا په هکله خپل نظر څرګندوه. هغه وخت ما خپل نظر دغه ډول څرګند کړې وو « په دې جهان کې خلا وجود نه لري. که چیرې د یوې ذرې په اندازه خلا وجود ولري او مطلق سکون برقرار اوسي، نو دا ټول جهان به په کې غرق شي» ( دعینیت فلسفه، څیړنې او ارزونې، ډاکټر حرکت).

۲

(هغه وخت ماپه دې باره کې اضافي توضیحات نه وو کړي، ځکه چې تر دې دمخه ما د « فلسفه علم دې؟ » په موضوع کې د حرکت موضوع څیړلې وه او هلته مې ددې موضوع وضاحت کړې وو، چې مطلق سکون وجود نه لري. که چیرې دیوې ذرې په اندازه مطلق سکون پیداشي دا ټول جهان به کې غرق شي. همغه ځای، داموضوع په کافي اندازه څیړل شوې او دلته هم دوباره وضاحت اضافي ګڼم.) دقیق نه پوهیږم ، خو دومره ویلې شم، چې دخپلې دغه لیکنې څخه د کلونو په موده وروسته مې د مولانا پور تنې فرد دکوم بل چا په یوه لیکنه کې ولوسته او له همغه وخت څخه مې د مولانا د افکارو په ژورتیا عقیده پیدا شوه.
لکن دروغجن به شم، که دا هم ونه وایم ، چې کله مې د مولانا «مثنوی معنوی » او « کلیات شمس تبریزی » ترلاسه او ځیني برخې مې ولوستلې، هغه عقیده چې مې پیدا کړې وه، بیرته مې له لاسه ورکړه. زه هیڅکله دا نه شم منلې، یوعالِم چې په شعوري توګه په علمي قانونمندئ باور پیداکوي، څه ډول ممکنه ده، چې داسې په اسانئ دې د یوه تصادفي ملاقات په قمار کې د ژوند، عقیدې، عقل، شعور، او پاکې رښتیني میني ټول بنیادي ارزښونه او شته وبایلي او پاتې عمر دې « العیاذ بالله » د بنده په اغراق امیزه مدح او یا (که دخپل هغه عقیدت او باور په نسبت، چې د حضرت مولانا صاحب علمي مقام او شخصیت ته یي لرم، له خپلې ډېرې غصې څخه ستغ او ګستاخانه ووایم) بنده ګئ کې عبث تیر کړي. زه ډېر تأسف کوم چې د حضرت مولانا د شان او شخصیت په هکله داسې کلمات اظهاروم. هیڅ باور مې نه راځي، چې داډول پیښه دې رامنځته شي. خو دا یو واقعیت دې او همدا زما رښتینې احساس، برداشت او درک دې، چې


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ماته پيدا شوې دې. که بل ډول مې ليکلې واى، نو رښتيا به مې نه وې ويلې، نو ځکه مې خپله رښتيني عقيده په خپله اصلي ترخه بڼه اظهار کړه، چې که د مولانا د افکارو او اثارو څېړونکي او مينه وال په خپله بزرگوارى سر ه په دې باره کې لازم سپيناوې او وضاحت راولي او دشکونو ترګمۍ رڼه شي.

دې کې شک نه شته، چې د شمس تبريزي ديوان پخپله يو ډېر لوى اوبې سارې معنوي ارزش دې، خو نو، نه د مولانا غوندې علمي شخصيت د ټول عمر د کار او زيار د محصلې په بيه. ښه به وې، چې که دا پيښه نه وې شوې، نو حضرت مولانا به د شمس تبريزي د ديوان په نسبت، نورې لا خورا با ارزښه څېړنې او ارزونې کړې او لا با ارزښه اثار به يي پنځولي او تخليق کړي واى.

دا جهان دهمزمان او هم مکان انتګرالي او ديفرنسيالي (کلي او جزئي) قانونمند ديالکتيکي تړلي وضعيت کې قرارلري. فلسفي قانونمنده ژورتيا او پراختيا هم د جهان د کلي او جزئي قانونمند ديالکتيکي دواړو وضعيتونو په تناسب د محاسبې وړ ګڼل کيږي. په دې توګه فلسفي ژورتيا او پراختيا له يوې خوا د الاهي علم د محاط محيط سره معادل او الاهي فلسفه هم همغسې چې په الاهي کلام قرآنکريم کې افاده شوې د خدايي ذاتي علم سره معادل تناسب جوړوي، خو دانساني ذاتي نيمګړتياوو، تناقضاتو او تناقصاتو په کچه څرنګه چې همدغه خدايي علم او فلسفه په بشري ذهن کې يواځې د هغه دمقدراتو په کچه انعکاس پيدا کولې شي، نو ځکه انساني فلسفه هم يواځې د انساني ذهنيت د مقدراتو سره معادل تناسب ګڼل کيدلې شي. هر ديالکتيکي قانونمند نظام که جزئي دې او که کلي، همزمان او هم مکان ځانګړي کلي او جزئي واحد نظامونه ګڼل کيږي. دغه کلي او جزئي نظامونه همداسې په همزمان او هم مکان قانونمنده ځانګړتيا او تړلتيا (اختيار، استقلاليت او مربوطيت) يعنې تأثير او تأثر کې سره واقع دي او د کوچنۍ ذرې له کچې څخه نيولې تر لويو سماوي اجرامو او لوى جهاني واحد نظام تر کچې مستقل ځانګړي اولوى او کوچني تړلي واحدونه جوړوي. همدغه کوچني او لوى ځانګړي واحد نظامونه معادل جوړښتي او قانونمند مشابه او متناسبه فلسفي ژورتيا او پراختيا لري او په تخميني ډول ويلې شو چې محاسباتي معيارونه يي يواځې د اعشاري ارقامو او اعدادو د درجې په کچه تفاوت لرلې شي. همغسې چې الاهي ذات په کل او جزکې واحد ذات دې، الاهي نظام هم، زه نه شم ويلې په کوم تناسب او کچه، خو دومره ويلې شم چې ټول مادي واحدونه تل همزمان او هم مکان جزئي او کلي واحد اوصاف او خصوصيات لري. دغه اوصافو او خصوصياتو په عالم الاسباب کې، سره ددې چې دانساني فلسفي څېړنو او ارزوونو چارې اسانه او د مقدراتو کچه لوړه کړېده، خو بيا هم دغه نظامونه که لوى دي او که واړه، د قانونمند ديالکتيکي کل او جز په حيث څېړل او ارزول، حتا د نني علمي ـ تخنيکي امکاناتو په شته والي سره هم ډير درونند، پيچلې او نا شونې کار ګڼل کيږي. ما دغه ډول جزئي او کلي فلسفي څېړنې او ارزونې د عامو قوانينو او قانونمنديو له مخې په مختلفو ټولنيزو، علمي، سياسي، رواني، شعوري، کلتوري ، تخنيکي او نورو برخو کې د ارزونو په خاطر وړاندې کړي، خو له بده مرغه تر اوسه پورې مې ددغه ارزوونو او څېړنو په هکله، حتا د ډېرو نژدې دوستانو، ملګرو او هيواد والو کاري او کره ملاتړ نه دې تر لاسه کړې، نه د پوهې او قانونمند منطق له مخې دچاد تأئيد يا رد غږ پورته شوې، نه مې د زړه له تل څخه ددغه مهمو حياتي مسايلو سره دعلاقې لرلو له مخې دچا کور ودانې اوريدلې او نه مې دچُپ شه په خاطر چا په خوله لا ايښې دې او په اصطلاح دوست او دښمن او نيک نيته او بد نيته يو ډول بې تفاوته او ممتنع پاتې دي. شک نه شته، چې يواځې د ځينو دوستانو تشويق او هڅونه ده ، چې په دې لار کې زما د استقامت، پايدارى او نه ستړي کيدونکي کار او زيار سبب شوې او دخپل عزم څخه نه يم ګرځيدلې. خو زه په دې عقيده يم، نړيوال مجبور دي چې هر ډول علمي او عملي څېړنې، ارزونې او چارې يواځې ددغه اصولو، معيارونو، قوانينو او قانونمنديو مطابق او موافق پر مخ بوځي تر څو سم حقيقي او واقعي رښتيني نتايج تر لاسه کړې شي. د پخوانيو تخيلي زړو فکرونو، متودونو او تيو ريو په بنياد څېړنې پر مخ وړل نه ممکني دي او نه مطلوبو نتايجو ته رسيدلې شي. مونږ بايد اګاهانه پدې وپوهيږو، چې څه ډول او په کومو ابعادو سره څېړنې کول غواړو او د هغې مطابق په ځانګړي ډول، په ديالکتيکي غير ارګانيک ارتباط او يا په مجموعي ډول ديالکتيکي ارګانيک کامپلکسي ارتباط کې، پديدي څېړل پيل اومطلوبې پايلې تر لاسه کړو.

شک نه شته، چې زه پرون د تعليم او نن د څېړنو او ارزونو په وخت کې د کمو امکاناتو، کم وخت او کمو مساعدتونو څخه برخمن يم، نو هغه ليکنې او مفاهيم چې ما دمخه محترمو لوستونکو ته د ارزونې او کره کتنې په خاطر وړاندې کړي او يا وروسته له دې به يي وړاندې کوم ، حتماً به له اشتباهاتو څخه خالي نه وي، خو هغه څه چې په دې ټولو وختونو کې زما د ستونځمن سفر او تورتمۍ لارې هميشنۍ بله ډيوه وه، هغه پر ځان باور او د نژدې څخه نيولې تر خورا وړاندې پراته چاپيرياله پو رې، پديدو او خلقتونو سره، اګاهانه او ديقين او علم تر سرحده کره وړه کول وو. هر انسان له سهوې او خطا څخه خالي نه دې. سهوې، نيمګړتياوي او خطاګانې منم، خو د يقين، پوهاوي او علم تر سرحده په خپلو کړو باور لرم او تر همدغه سر حده مې زيار او ستونځې هم ګاللي او هڅه مې کړې په خپلو خبرو کې د اضافه ګويي، توصيف او هجوې څخه ډډه وکړم. کيدلې شي، په ځيني مسايلو کې اضافه ګويي او ډېرې خبرې شايد تفنن او هنر وګڼل شي او سناريو رنګينه او دهر چا د ذوق وړ وګرځوي، خو په فلسفه کې نيمه خبره کمه او اضافه کول هم نه بخښونکې ګناه ګڼل کيږي.

دمخه د فلسفي ژورتيا او پراختيا (عموديت او افقيت) په هکله مونږ وويل، چې دغه مسايل د يوې ذرې، يوه سماوي تر ټولو لوى واحد اوددې لوى جهان په کچه، يو شان ژورتيا او پراختيا يعنې« بوده »، « تنسته » او ژوروالې لري، چې

---


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پخپله د الاهي خلقتونو د خلقت اعجاز، خارق العادگي او بې ساريتوب په کې له ورايه ځرګند دي .دغه ژورتيا او پراختياد ډېر ساده او ډېرو پر مختللو مادي واحدونو او بيولوژيکي، فزيولوژيکي، کيمياوي، فزيکي او نورو ډول ډول مرکباتو او تعاملاتو تر منځ د پام وړ تفاوتونه نه ليدل کيږي. دغه عناصر ذاتي تفاوتونه هم سره نه لري او د دوئ اتمونه او حجرې د يو ډول اوليه موادو څخه جوړې شوي او د يوه يوه الکترون او پروتون او يو تعداد نيترونونو له مخې يو تر بله سره فرق لري. دغه ټول ذرات، دغه ټول مادي واحدونه، خلقتونه، پديدي او دا لوی جهان په واحد قانونمند نظام کې قرار لري او هر يو واحد له کوچني څخه نيولې تر لوی پورې د خپلو مقدراتو د اختيار او استقلاليت په تناسب يو تر بله په مختلفو وسايلو اوامکاناتو سره تړلي او يو له بل څخه متأثر او متحسس دي. يو دبل متمم او مکمل، يو بل سره تغذيه کوي او يو تربله سره په مساعدت کې بدلون او پرمختګ مومي او د بې شميره ډول ډول مادي نعماتو د ايجاد علت او معلول جوړوي او يو دبل په مجاورت او يو تربله په تأثيراو تأثر سره معرض د معرفت واقع کيږي.

زمونږ نژدې لمر له ځمکې څخه ۱۵۰ مليونه کيلو متره ليرې واقع دې، خو په ځمکه کې ټول مادي نعمات او دژوند ټولې رنګينئ د الاهي علم د قانونمنديو په بنياد، د نژدې لمر او نوروليرې بې شميره لمرونو دشعاعاتو او فوتونونو د انعکاساتو او تعاملاتو په بنياد رامنځته کيږي. تيره شپه (۲۰۱۱/۱۲/۰۷م) اريا نا تلويزون اعلان وکړ، امريکايانو (يوستورې)، خو دا خبره سمه نه ده بلکه يوه سياره کشف کړې، چې له ځمکې څخه ۶۰۰ (کاله) دا خبره هم سمه نه ده، بلکه ۶۰۰ نوري کاله مصافه لري او معلومه شوېده، چې هلته اوبه او ژوند هم وجود لري. ( نوري کال په دې مفهوم، نور چې په يوه ثانيه کې ۳۰۰ زره کيلو متره لار وهي، که ۶۰۰ کاله لار ووهي تر دغه سيارې به ورسيږي. ما چې محاسبه کړه (پنځه تريليونه، شپږسوه شپږ اويا بليونه، څلور سوه اتيا ملیارده کيلو متره مصافه کيږي)، چې برابره ده د هغه مصافې سره چې که مونږ له ځمکې څخه ۴۰۶ ملیارده کرته دوره ووهو. په حقيقت کې دغه مصافه له دې څخه هم ډيره زياته ده، ځکه چې ما دغه مصافه د نور په سرعت محاسبه کړه، حال داچې، کوم امواج چې ددغه سيارې په لور ليږل شوي، نوري نه، بلکه الکترو مقناطيسي امواج دي، سرعت يي له نور څخه ډير کم دې. مونږ په ځمکه کې عملاً نن د کوچنيو ذراتو په ذريعه، د مصنوعي سپوږمکيو له لارې، زرونه متره دځمکې لاندي دمعدنونو موقعيتونه ، کميتونه او کيفيتونه معلومولې شو.

په يوه تصادفي مثال کې مونږ وښودلې شوه، چې د فلسفي علم تړلتيا، ژورتيا، پراختيا او کيفيت تر کومې اندازې دقيق او وسيع دې. په دې باره کې بې شميره مثالونه راوړل کيدې شي، چې زمونږ د پورتني استدلال په تأئيد او ثبوت دلالت وکړي. زه د ډېرو مثالونو راوړلو ضرورت نه وينم، خو دومره ويلې شم، چې د نورو فلسفي موضوعاتو د ارزونې او څيړنې په وخت کې به بيا بيا په دغه باره کې لازم وضاحتونه وشي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ